د افغانستان بانک

د پولي سیاست لوی امریت

د پولي سیاست میاشتنی راپور

# د پولي سیاست او مالي چارو د څارنې د شاخصونو تغیراتو ته لنډه کتنه

**لړم1399**

## لړلیک


1.پولي سکتور ........................................ 3

۱,۱د پولي زیرمو او په گردښت کې د پیسو د ودې راپور: ........ **Error! Bookmark not defined.**

۲.۱خالصې نړیوالي شتمنۍ ........ **Error! Bookmark not defined.**

1.3 د بهرنیو اسعارو او د پانګه ایزو پاڼو لیلام ........ **Error! Bookmark not defined.**

۱,۵ د تبادلې نرخ ........ **Error! Bookmark not defined.**

2.حقیقی سکتور ........ **Error! Bookmark not defined.**

۳. بهرنی سکتور ........................................ 12

3.1) د جاري حساب بیلانس: ........ **Error! Bookmark not defined.**

3.1.1) د توکو د حساب بیلانس: ........ **Error! Bookmark not defined.**

3.1.2) د خدماتو د حساب بیلانس: ........ **Error! Bookmark not defined.**

3.1.3)د لومړنیو عوایدو حساب: ........ **Error! Bookmark not defined.**

3.1.4) د منځنیو عوایدو حساب: ........ **Error! Bookmark not defined.**

3.2) د پانګیز حساب بیلانس ........ **Error! Bookmark not defined.**

3.3) د تادیاتو د بیلانس مالي حساب: ........ **Error! Bookmark not defined.**

3.3.1) د مخامخ پانګوني حساب : ........ **Error! Bookmark not defined.**

3.3.2) په ارزښت لرونکو پاڼو کې پانګونه ( نامخامخ پانګوني): ........ **Error! Bookmark not defined.**

4. مالی سکتور ........................................ 22


## 1.پولي سکتور

د پولي سیاست آمریت د پیسو غوښتنې اصلي او ګټورولارو ، د دولت مالي پروګرامونو (عوایدو او لګښت) ، اقتصادي ودې لر لید او په هیواد کې د قیمتونو د تولیزې کچې له لارې د هېواد اقتصادي حالت ته په کتو د هېواد پیسو سیاستونه طرح کوي .

د پولي زیرمو (RM) کره مبلغ د مالي کال ۱۳۹۹ (۲۰۲۰) په پیل کې ۹۸ , ۶۲۸ ، ۳۲۱ ملیونه افغانۍ ثبت شوی دی ، او د لړم میاشتې په پای کې یې کره مبلغ ۳۲۵،۵۹۲.۳۰ ملیون افغانۍ دی چې د مالي کال له پیل څخه تر اوسه بیا 1.23سلنه وده څرګندوي .

سربیره پردې ، د افغانستان بانک وتوانېدو په بریالیتوب سره په ګردښت کې پیسې (CiC) اداره کړي. د روان مالي کال په پیل کې په ګردښت کې ټولې پیسې ۲۵۹۳۴۹,۹۸ملیونه افغانۍ وې او د لړم میاشت په پای کې بیا ۲۸۵،۹۹۲.۹۸ ملیونه افغانۍ وې چې 10.27 سلنه وده ښیي.

لاندې جدول د مالي کال۱۳۹۹ (۲۰۲۰) په جریان کې RM او CIC ښیې





سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۱,۲ خالصې نړیوالې شتمنۍ

خالصې نړیوالې شتمنۍ(NIR) راټولول، کوم چې د ملی اقتصاد د لوی اقتصادي شاخص په توګه پیژندل کیږي ، د هیواد په مالي سیستم کې یوه له ترټولو لویه لاسته راوړنه ده. د NIR راټولول پرته له شک شخه د پولي سیاستونو غوره پلي کولو او د د لوی اقتصاد شاخصونو لکه د تبادلې نرخ ، انفلاسیون او تادیاتو بیلانس د تعادل د ثبات ساتلو باندې مخامخ اغیز لري .

د ۱۳۹۹مالي کال (۲۰۲۰) په پیل کې ، د افغانستان NIR کره اندازه 7994 ملیونه ډالر ټاکل شوې وه مګر د NIR د بازار په نرخ حقیقي اندازه د لړم په پای کې ۸،۰۹۷.۴۵ ملیون ډالرو ته رسیدله ، چې د 102.99ملیون ډالرو زیاتوالی ښیي.

د NIR وده په لاندې جدول کې وړاندې کیږي:




سرچینه: دبازار عملیات / د پولي سیاست آمریت


## 1.3 د بهرنیو اسعارو او د پانګه ایزو پاڼو لیلام

د نغدوالي د کنټرول لپاره ، د ډالرو عرضه کول په اقتصاد کې د افغانۍ د تبادلې د نرخ ډیر بدلون راکموي ، د افغانستان بانک په اونۍ کې دری ځله د ډالرو لیلام او یو ځل د پانګه ایزو پاڼو د لیلام له لارې خپله موخه له نژدې اداره کوي چې دا دوه وسیلې دي او د ازاد بازار عملیاتو له لارې عملي کیږي . د تفصیل لپاره هر وسیله په لاندې توضیحي کیږي.

### د بهرنیو اسعارو لیلام

د ۱۳۹۹(۲۰۲۰) مالي کال له پیل راهیسې د لږم تر پای پورې ، د افغانستان بانک د آزاد بازار د عملیاتو له لارې ټول ټال 902.37 ، ۱ملیونه امریکایي ډالر لیلام کړي او له بازار څخه یې 46.10 ۱ ملیارده افغانۍ راټولې کړې دي. د آزاد بازار په عملیاتو کې د اسعارو (په ځانګړي توګه د متحده ایالاتو ډالر) د ټول غوښتنې 29.23 سلنه پوره کړې.

لاندې جدول د تیرو ۱۲ کلونو په جریان کې د بهرني اسعارو غوښتنې او عرضه ښيي.





سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

### د پانګه ایزو پاڼو لیلام

د افغانستان بانک په بازار کې د نغدوالي د کنټرول،د بانکوالۍ سکتور کې د اضافه نغدوالي مخنوی، د تضمینونو لپاره منځني بازارونه رامینځته کول، د تبادلې په نرخ کې د ثبات ساتلو ، د پولي سیاست وسایلو ډیرښت رامینځته کول ، او سوداګریز بانکونه هڅول څوخپلې ټولې چارې په افغانیو ترسره کړي نو د افغانستان بانک په همدې موخه د پانګه ایزو پاڼو له لیلام څخه کار اخلي .

د ۱۳۹۹(۲۰۲۰) مالي کال له پیل څخه  د لړم د میاشتې  تر پایه پورې ، د پانګه ایز پاڼو  نه ترلاسه شوې ونډه 41.11 ملیارده افغانیو ته رسیدلې او په عین حال کې د یاد شوي پاڼو ټولټال سود د دې میاشتې په پای کې 76.35 ١ ملیونه افغانیو ته رسیدلی.

لاندې شکل د مالي کال ۱۳۹۹(۲۰۲۰) د لړم میاشتې تر پای پورې د 9 کلونو په جریان کې د پانګه ایز پاڼو نه ترلاسه شوې ونډه روښانه کوي.





سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۷ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې

د لړم میاشتې  په پای کې د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام د ۶۷ , ۰ سلنه منځني سود سره 3.03 ملیارده افغانیو ته رسیدلې.


نه ترلاسه شوې برخې د دې مودې لپاره 3.03 ملیارده افغانۍ دي.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۲۸ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې


د ارزول شوې مودې په جریان کې ، د لړم میاشتې په پای کې د ۲۸ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې لیلام په اوسط ډول د 53 . ۱ سلنه سود او1.11ملیارده افغانیوپه ارزښت وړاندې شوې دي اوټولټال نه ترلاسه شوي ونډه 2.61 ملیارده افغانۍ ثبت شوې.




سرچینه: د بازار عملیات / پولي سیاست آمریت

## ۹۱ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې


د دې راپور ورکولو په جریان کې د ۹۱ ورځو لپاره د پاڼو لیلام ۰.01 ملیارده افغانۍ شوی دی او د لړم اوسط ټکټانه 1.51 ۱ سلنې وه او ټولټال نه ترلاسه شوي ونډه 2.29 ملیارده افغانیو ته رسېدلې.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۱۸۲ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې


د دې راپور چمتوکولو د مودې په جریان کې د افغانستان بانک د ۱۸۲ ورځو لپاره د پاڼو لیلام د لړم په میاشت کې 0.05 ملیارده او اوسط سود د 1.76 سلنې و او نه ترلاسه شوي ونډه یې 3.72 ملیارده افغانیو ته رسېدلې.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۳٦۴ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې


د دې راپور ورکولو په جریان کې د افغانستان بانک د ۳٦۴ ورځو لپاره د پاڼو لیلام د لړم میاشتې په پای کې 0.51ملیارده افغانۍ وې چې منځنۍ ډول د 3.39 سلنه سود او او نه ترلاسه شوي ونډه یې 29.46ملیارده افغانیو ته رسېدلې.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۱,۴ د ټکټانې لګښتونه


د افغانستان بانک د تیرو ۱۱ کلونو په جریان کې د مالي کال ۱۳۹۹ (۲۰۲۰) د وږی میاشتې پورې د پانګه ایز پاڼو لپاره ټکټانې تادیه کړې دي چې ارقام یې په لاندې ډول ښودل شوي دي.



## ۱٫۵ د تبادلې نرخ

مرکزي بانک په بازار کې د اسعارو نرخ نه په نښه کوي. په هرصورت ، په نورو لوی اقتصادي شاخصونو د دې د پام وړ اغیزو په پام کې نیولو سره ، د افغانستان بانک د تبادلې نرخ چلند له نږدې څارې ترڅو د دې شدید بدلونونو مخه ونیسي. د معلوماتو ته په کتو ، د افغانیو تبادلې نرخ د نړۍ د مهمو اسعارو په وړاندې یو څه بدلونونه ثبت کړي دي.

د۱۳۹۹ مالي کال له پیل راهیسې افغانۍ د 1.87 سلنه ارزښت له مخې لوړوالی ښودلی دی ، او په منځنی ډول ډالر په 76.79 افغانۍ تبادله شوې او د لړم په پای کې په 76.97 تبادله شوې.



## د پولي شاخصونو جدول

| | 1398 مالي کال | | | | | | 1399 مالي کال | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | کب | غبرګولی | وری | تله | لړم | لیندۍ | کب | غبرګولی | وری | تله | لړم |
| د پولي زیرمو ټاکلی هدف(٪) | 12 | | | | | | 12 | | | | |
| د پولی زیرمو حقیقي وده(٪) | -5.60 | -4.5 | 1.19 | 1.9 | 2.2 | 12 | -8.00 | 0.42 | 1.82 | 0.44 | 1.23 |
| د پولی زیرمو حقیقي وده(میلون افغانی) | 255,627.49 | 259,654.32 | 275,042.98 | 293,531.98 | 294,628.03 | 304,625.71 | 295,224.52 | 322978.27 | 327473.8 | 323039.14 | 325592.3 |
| د پولي زیرمو ټاکلې موخه (میلون افغانی) | 280,267.14 | 305,491.17 | 314,327.17 | 317,177.49 | 20,027.82 | 322,878.14 | 331,039.94 | 340873.85 | 350707.77 | 353880 | 357535.12 |
| ګردښت کې پیسو حقیقی وده (میلون افغانی) | 222,147.20 | 231,598.67 | 244,489.52 | 254,320.10 | 55,165.73 | 259,350.77 | 259,302.12 | 279,989.89 | 283,438.22 | 285,277.84 | 285,992.98 |
| د ګردښت پیسو ټاکلې موخه (میلون افغانی) | 233,785.34 | 241,897.91 | 248,894.55 | 251,151.53 | 253,408.50 | 255,665.48 | 266,938.63 | 274,868.34 | 282,798.06 | 285,356.03 | 294,236.46 |
| په نړیوالو زیرمو کې حقیقي وده (ملیونونه ډالر) | 7,702.51 | 7,691.22 | 7,868.70 | 8,365.31 | 7,978.50 | 7,873.60 | 7,711.85 | 8,128.78 | 8,334.40 | 8,365.31 | 8,097.45 |
| په نړیوالو زیرمو کې ټاکلې موخه (ملیونونه ډالر) | 7,684.13 | 7,708.58 | 7,708.58 | 7,708.58 | 7,708.58 | 7,708.58 | 7,846.07 | 7,919.41 | 7,919.41 | 7,919.41 | 7,833.74 |
| د پانګه ایز پانو ناترلاسه شوې برخه | 26,665 | 27,020 | 23,920 | 25,000 | 23,075.00 | 24,905.00 | 30,455 | 34,495 | 39,590 | 41,550 | 41,110 |
| اجباري زېرمې (لازمي زېرمې) ملیونونه افغانی | 5,768.54 | 10,923.40 | 2,657.34 | 5,895.74 | 5,442.18 | 5,734.43 | 5,928.75 | 6,271.67 | 6,914.36 | 6,914.36 | 7,118.90 |

## 2. حقیقی سکتور

### پیسو ټولیز پړسوب

### د پیسو ټولیز پړسوب ـدکلنۍ محاسبې پر بنسټ تلې میاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي.

د پیسو ټولیز پړسوب کچه د 1399لمریز لیږدیز کال دکلنیبدلونونو پر بنسټ دتلې په میاشت کې زیاتوالېکړی دی. دمصرفي توکو ټولیز پیسو پړسوب له 5.70 سلنې 5.99سلنې پورې زیاتوالیځرگندوي. دا زیاتوالی دخوراکي او غیرِ خوراکي توکو دقیمتونو دزیاتوالی نه سرچینه اخیستې ده، چې ټولیز شاخص یې تر اغیزې لاندې نیولی دی.

| په ملي کچه د مصرفي توکو بدلونونه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شاخصونه | کلنی بدلون | | میاشتنی بدلون | |
| | وړی | تله | وړی | تله |
| عمومی پړسوب | 5.70 | 5.99 | -0.83 | 0.52 |
| خوراکي توکي | 9.41 | 9.75 | -1.92 | 0.50 |
| غیرې خوراکي توکي | 2.16 | 2.42 | 0.30 | 0.55 |

او له بلې خوا، څرنگه چې دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ چې توپیرونه په لندمهاله توگه د څیړنې لاندې نیول کېږي اوپه لنډ مهاله توگه بدلونونه څېړي د دې محاسبې پر اساس له 0.83-سلنې څخه تر 0.52سلنې پورې دتلې په میاشت کې زیات شوی ده.

### دخوراکي توکوـشاخص دکلنۍ بدلون پر بنسټ د جګ قیمتونو ښکارندوی دی.

د احصائيې او معلو ماتو ملي اداري د وروستيو ارقامو د لاس ته راوړلو پر اساس دکلني محاسبې پر بنسټ د خوراکي توکو قيمت له 9.41 سلنې پورې 9.75سلنې پورې زياتوالی څرګندوي . د دې زياتوالی اصلي لامل د( غوښه،شيدی پنير او هګۍ ،سابه او خواړه) دقيمت کموالی دی.

### د خوراکي توکي شاخص د میاشتینې محاسبې پر بنسټ تلې په میاشت کې زیاتوالی ښکاره کوی

د خوراکي توکو شاخص په برخه کې دمياشتيني بدلون معيار پربنسټ دتلېپه مياشت کې 0.52سلنې ته رسيدلی دی، حال دا چې دا رقم په تيره مياشت کې 1.92-سلنه سنجش شوی وو. دازياتوالي دخوراکي تو کو اجزاوو لکه (غله او دانه ، غوښه ،لبنيات ، وچې او تازه ميوې ،سابه ،خواړه، مصاله او متفرقه ) دقيمتونو له امله را منځ ته شوی دی.

| خوراکي توکي د پیسو پړسوب (وړی - تله) 1399 | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| توکي | ونډه (٪) | کلنی بدلون | | میاشتنی بدلون | |
| | | وړی | تله | وړی | تله |
| خوراکي توکو پړسوب او غیرې الکولي څښاک | **47.8** | 9.41 | 9.75 | -1.92 | 0.50 |
| ډوډې اوړه غلې دانې | **14.6** | 14.49 | 12.43 | -1.62 | -1.54 |
| غوښه | **7.5** | 9.72 | 10.96 | -0.76 | 0.67 |
| لبنیات(شیدی،پنیر،هگی) | **4.7** | 2.16 | 3.30 | -1.52 | 1.15 |
| غوړي | **4.6** | 15.44 | 11.98 | -1.04 | -2.39 |
| وچه او تازه میوه | **5.0** | 13.15 | 10.52 | -6.38 | -1.65 |
| سابه | **6.0** | 2.06 | 1.97 | -3.06 | 11.00 |
| خواړه | **2.7** | 0.67 | 3.74 | -0.52 | -0.98 |
| مصاله | **1.3** | -1.18 | -2.47 | 0.56 | 3.08 |
| غیرې الکولي څښاک | **1.4** | 4.89 | 3.54 | 0.20 | 0.25 |

د کلني محاسبې پر بنسټ **دلبنیات :(شیدي،پنیراو دچرگانو دهگی)** قیمت چې دمصرفي توکو ټولیز شاخص 4.7سلنه جوړوي د کلني محاسبې پر بنسټ له2.16سلنې تر 3.30 سلنې پورې د څیړنې په موده کې زیاتوالی موندلی دی .

او همدا راز د میاشتیني محاسبې پر بنسټ د دې برخې شاخص له 1.52- سلنې تر 1.15 سلنې پورې زیاتوالی کړی دی. افغانستان دلبنیاتو ډیری محصولات اود چرگانو هگی له گاونډیو هیوادونو څخه ، په ځانگړې توگه له ایران هیواد څخه واردوي

پدې ورو ستيووختونو کې ، په ايران هيواد کې د لبنياتو محصولاتو اود چرگانو هگيو نرخونه لوړ شوي ، چې زمونږ په هيواد کې هم پدې شاخص باندی مستقيم اغيزه کړي دی

**سابو** قيمت هم د تلې په مياشت کې کمه شويده . دا برخه په ټوليز شاخص کې6.0سلنه وزن (ونډه) لري.

او کولای شي هر بدلون په دې برخه کې د پيسو ټوليز پړسوب تر اغيزې لاندې ونيسي .ددې برخې قيمت د کلنی محاسبې پر بنسټ له 2.06 سلنېتر 11.97 سلنې پورې د تلېپه مياشت کې کموالی موندلی دی. او همدا راز دمياشتني محاسبې پر بنسټ ددې شاخص قيمت له 3.06-سلنې تر 11.00 سلنې پورېزياته شوی ده. ددې شاخص زياتوالی اصلي لامل په هېواد کي موسمي اغيزې دي،معمولا د منې موسم په لړ کې ددې شاخص قيمت لوړيږي. همدا رنگه ډيری ذخيره خونی دکار پيل کوم چې د ذخيره کولو ظرفيت لري او سابه پکښې ساتل کيږی . ددې لامل گرځيدلی دې چې دا توکي په بازار کې په ارزانه بيه ونه پلورل شې .

**خواړه** چې په عمومي شاخص کې 2.7 سلنه ونډه لري ،له 0.67 سلنېتر 3.74سلنې پورې تلې په مياشت کې زياتوالي کړی دی. او د مياشتيني محاسبې پر اساس ددې شاخص قيمت له 0.52-سلنې تر 0.98-سلنې پورې کموالي موندلې ده.

د بورې او خواړو په نرخونو کې دا زياتوالی ځکه دی چې افغانستان د خپلې اړتيا وړ بوره له نورو هيوادونو څخه لکه ايران ، متحده اماراتو او همدا راز ماليزيا ،هندوستاناو ترکمنستان څخه واردوی ، دبورې دبيې لوړ والی ايران او اماراتو په هيوادونو کې او همدا راز د بورې وارداتو کموالی له ماليزيا ،هندوستان او ترکمنستان هيوادونو نه څخه ددې لامل گرځيدلې دی چې زمونږ په هيواد کې هم د بورې بيه لوړه شې.

| غيرې خوراکي توکو پرسوب (وری-تله ) 1399 | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اقلام | ونډه (٪) | کلنی بدلون | | میاشتیني بدلون | |
| | | وری | تله | وری | تله |
| غيرې خوراکي توکي تنباکو او چوپړتياوې | **52.2** | 2.16 | 2.42 | 0.30 | 0.55 |
| سگرت او تنباکو | **0.3** | 2.37 | 3.11 | 0.02 | 0.00 |
| جامې | **4.6** | 7.84 | 8.64 | 1.21 | 1.47 |
| استوگن ځای | **19.1** | 1.03 | 0.56 | 0.29 | 0.87 |
| دکور سامانونه | **11.9** | 3.40 | 4.30 | 0.65 | 0.08 |
| درملنه | **6.2** | 7.82 | 7.42 | -0.83 | -0.06 |
| ترانسپورت | **4.3** | -13.38 | -12.22 | 0.01 | 0.38 |
| مخابرات | **1.7** | -0.58 | -0.33 | -0.14 | 0.37 |
| اطلاعات و فرهنگ | **1.1** | 0.72 | 3.46 | 0.77 | 0.59 |
| ښوونه او روزنه | **0.4** | 4.35 | 5.29 | 1.39 | 1.47 |
| هوټل او رستورانت | **1.1** | 2.31 | 2.22 | 0.53 | 0.06 |
| متفرقه | **1.4** | 9.49 | 9.52 | -0.24 | 0.87 |

### غیرې خوراکي توکی کلنی-پړسوب دتلې په میاشت کې زیاتوالی کړی دی.

**غیرې خوراکي** توکو شاخص چې د ټولیز شاخص 52.2 سلنه جوړوید۱۳۹۹لمریز لیږدیز کال د تلې میاشت کې بدلون راغلی دی او 2.42سلنېته رسیدلی دی حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې2.16سلنه سنجش شوی وو. او د دې زیاتوالی لامل( تنباکو،جامې ،دکور سامانونه ، ترانسپورت ، اړیکې ، اطلاعا ت او فرهنګ اوښوونه او روزنه ،متفرقه ) دبیې زیاتیدل ګڼل کېږي.

دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ ددغې برخې شاخص له 0.30سلنه دوړی په میاشت کې تر 0.55سلنې پوری دتلې میاشت کې زیاتوالی کړی دی .

**دجامو** دشاخص قیمت چې د ټولیز شاخص کې 4.6 سلنه ونډه لري له 7.84سلنه تر 8.64 سلنې پورې د1399 کال دتلې میاشت کې زیات شوی دی. او همدا راز دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ هم ددې برخې قیمت له 1.21سلنې تر 1.47سلنې پورې دتلې په میاشت کې زیاتوالي موندلی ددې شاخص لکه چې وینو مونږ خپل ډیرې جامې له پاکستان هیواد څخه واردوو او د پاکستان د پنبې په کروندو کې د ملخانو د برید له امله د جامو بیه لوړیدل او همدا راز په هیواد کې دمني د جامو د پیرود غوښتنه زیاتوالي له امله ددغې شاخص دبیې زیاتوالي لاملونه ګڼل کیږی.

دتلې په پورې **دکور سامانونه** چې 11.9 سلنه په ټولیز شاخص کې ونډه لري د وږی په میاشت کې له 3.40سلنې تر4.30سلنې میاشت کی زیاتوالی موندلی دی او د میاشتیني محاسبې پر بنسټ له 0.65سلنه تر 0.08سلنې پورې دتلې په میاشت کې کمشوی.لکه څرنګه چې مونږ زیاته برخه د کور مالونه له ایران او پاکستان هیوادونو څخه واردو ،په ایران هیواد کې ددغو توکو دبیې زیاتوالي او پاکستان هیواد کې د پنبې د تولید کموالی او همدا راز ددې مودې په جریان کې افغانستان ته د وارداتو کموالی ،دا هغه لاملونه دی چې ددې برخی شاخص دبیې زیاتوالي لامل ګرځیدلی دی

د **ښوونې او روزنې** شاخص د کلني محاسبې پر بنسټ چې له 4.35سلنهدوږي په میاشت کې تر 5.29سلنه پورې د څیړنې په دوره کې زیاتوالی کړی دی. او همدا راز دمیاشتیني محاسبې پراساس دا شاخص له1.39سلنې تر1.47سلنې پورې ډیرښت څرکندوي

انگلیسی او ساینسي مضامینو ته په کورسونو کې د غوښتنې زیاتوالی د ذکر شوي شاخص په فیس کې زیاتوالی ددی لامل گرځیدلی چې ددې شاخص بیه تراغیزې لاندې ونیسې.


## دهستې انفلاسیون (اصلي انفلاسیون)

په هېواد کې د هستې انفلاسیون کچه د د افغانستان بانک د پالیسو اغیزمنتیا د قیمتونو ټولیزې کچې کچې باندې د کنترول ښکارندویي کوي. د دې معیار پربنسټ، د انفلاسیون د کچه بدلونونه چې غیر عادي عوامل لري او د کنترول هم بهر دي، په شاخص کې په پام کې نه نیول کېږي د انفلاسیون کچه زیاته برخه د فصلي بدلونونو او کله ناکله د غیرې عادي پیښو له امله اغیزمن کیږي. استفاده کیږی . په دغه کړنلاره کې هغه اجزاوی چې په غیر عادی توگه قیمت یې بدلون مومې په شاخص کې ترنظر لاندې نه نیول کیږي تر څو پورېپه ټولیز شاخص باندې یې د اغیزې نه مخنیوی وشي .

د هستې انفلاسیون د معلومولو له معیارونو څخه یو یې هم د اوسط لنډیز (Trimmed Mean%30 ) دی. دغه معیار یو مشخصه برخه په نظر کې نیسي او د ساده لنډیز شاخص په اساس وروسته له نظر لاندې اجزاوې تر لرې کولو وروسته محاسبه کیږي . د دې معیار په اساس پیسو پړسوب د 1399لمریز لیږدیز کال دوری میاشت کې له 4.23سلنې تر 5.47 سلنې پورېدتلې په میاشت کې زیاتشوی دی.

بل معیار د هستې تورم عبارت دی له**لگښتې توکو شاخص بې د ډوډۍ ،غوړي او ترانسپورت** څخه . چې پیسو پړسوب د دې معیار په اساس 5.39سلنې ته د تلې په میاشت کې رسیدلی دی حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې4.47سلنه سنجش شوی وو. د دې معیار له مخې د میاشتینې محاسبې پر بسټ له 0.69-سلنې تر1.16سلنې پورې زیاتوالیښکاره کوي.

4.47سلنې ته د وری په میاشت کې رسیدلی دی حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې4.27سلنه سنجش شوی وو. د دې معیار له مخې د میاشتینې محاسبې پر بسټ له 0.39-سلنې تر0.69-سلنې پورې کموالی ښکاره کوي.




| دهیواد په کچه د هستي پړسوب بدلون | | |
|---|---|---|
| توکي | وړی | تله |
| | کلنی بدلون پر بنسټ | |
| پیسو پړسوب د خلاصه شوي اوسط (۳۰٪)(لنډیز<br>(Trimmed mean | 4.23 | 5.47 |
| ټولیز شاخص د استوګن ځایونو،غلو دانو ،غوړیو او<br>ټرانسپورټ څخه پرته . | 4.47 | 5.39 |

## ۳. بهرنی سکتور

### ۱،۳. د جاري حساب بیلانس:

د راټول شویو ارقامو له مخې ،د هیواد د تادیاتو د بیلانس د جاري حساب کسر د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې، د تیر کال د دریمه څلوریزې په پرتله کمښت پیدا کړی دی. د ۱۳۹۸ لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې د جاري حساب کسر تقریبا ۱۰۲۸،۳۸ میلونه ډالره ثبت شوی وو،او د ۱۳۹۹ لمریز کال په دریمه څلوریزه کې ۸۹۳،۵۱میلونونه ډالرو ته راښکته شویدی، چې ۱۳ سلنه کمښت ځرګندوي . د دې کسر د کمښت سبب، د نړیوالو په وړیا مرستو کی د ډیرښت، د خصوصی افرادو د پیشو په رالیږد کی ډیرښت او همدا رانګه په خدماتي عوایدو کې د زیاتوالی پایله ده .

### ۱،۱،۳. د توکو د حساب بیلانس:

د رارسیدلو ارقامو له مخی د هیواد د توکو د حساب کسر د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کی د تیرلمریز لیږدیز کال د دریمه څلوریزی په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالی راغلی. چی له ۱۳۸۲،۴۲ میلونو ډالور څخه چی د تیر کال په دریمه څلوریزی کی ثبت شوی وه د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزی کی ۱۷۲۵،۳۷ ته رسیدلی دی.
په ټوله کې د توکو واردات د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې د ۱۳۹۸ لمریز لیږدیز کال د دریمه څلوریزې په پرتله ۲۱ سلنه زیاتوالی ځرکندوي. چې له ۱۵۹۱،۲۰ میلونو ډالرو څخه چی د تیر کال په دریمه څلوریزه کې ثبت شوی وو، په روان لمریز لیږدیز کال کې ۱۹۲۳،۷۹ میلونه ډالره په ثبت رسیدلي دي .په همدې ډول د توکو په ټولیزو صادراتو کې د تیر لمریز لیږدیز کال د دریمی څلوریزې په پرتله ۵ سلنه کمښت ځرګندوي چې تیر کال په دریمه څلوریزه کې ۲۰۸،۷۷ میلونه ډالر ثبت شوي و او د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې ۱۹۸،۴۲ میلونه ډالره ثبت شوی .

### ۳،۱،۲. د خدماتو د حساب بیلانس:

د روان لمریز لیږدیز (1399)کال په دریمه څلوریزه کې د خدماتو بیلانس کسر کې ۳۰ سلنه کموالی راغلی دی. چې د تیر لمریز لیږدیز (1398)کال په دریمه څلوریزه کې ۱۸۵،۵۹ میلونه ډالره ثبت شوي و او د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې بیا دا ۱۲۹،٦۱ میلونه ډالره ثبت شوي دي

### ۳،۱،۳. د لومړنیو عوایدو حساب:

د لومړنیو عوایدو د حساب ټول خالص عواید د روان لمریز لیږدیز (۱۳۹۹) کال په دریمه څلوریزه کې ،د تیر لمریز لیږدیز کال ۱۳۹۸ د دریمی څلوریزی په پرتله ۱۴ سلنه کمښت ځرګندوی. چې داکمښت له ۷۵،۷۹ میلنونو ډالرو څخه ٦۵،۳۵ میلنونو ډالرو ته رسیدلی دی .

### ۳،۱،۴. د منځنیو عوایدو حساب:

دمنځنیو عایدو حساب (بلا عوضه مرستو او د کارګرو رالیږدونکي پیسې دي ) د روان لمریز لیږدیز(۱۳۹۹) کال په دریمه څلوریزه کې د تیر لمریز لیږدیز (۱۳۹۸) کال د دریمی څلوریزې په پرتله په کې ۱۱۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی چې له ۳۴۱،۲۷ میلونو ډالرو څخه ۷۱۷،۵۷ میلونو ډالرو ته زیات شوي دي .

**۳،۱،۴،۱. جارې لیږدونې(بلاعوضه مرستې )**: د روان لمریز کال په دریمه څلوریزه کی د افغانستان دولت ته په خالصو جاري لیږدونو کې تقریباَ ۱۵۱ سلنه زیاتوالی راغلی ، چې له ۲۳۳،۱ میلونو ډالرو څخه تقریباَ ۵۸٦ میلونو ډالرو ته زیات شوی دی.

**۳،۱،۴،۲. د خصوصي اشخاصو لیږدونې** : د روان لمریزی کال په دریمه څلوریزه کی له بهر څخه د خصوصي (انفرادي ) اشخاصو د پیسو لیږد د تیر لمریز کال د دریمی څلوریزی په پرتله تقریباً ۲۴ سلنه زیاتوالی راغلی. د رارسیدلو ارقامو له مخی د انفرادی اشخاصو د پیسو لیږد د روان لمریز کال په دریمه څلوریزه کی تقریباً ۱۴۳ میلونه ډالر ثبت شوی دی، حالانکه دا مقدار د تیر کال په عین دوره کی تقریباً ۱۷۷ میلونه ډالره راپور ورکول شوی وه.

**۳،۲. پانګیز حساب بیلانس:** د تادیاتو بیلانس پانګیز حساب د روان لمریز کال په دریمه څلوریزه کی د تیر کال د دریمه څلوریزی په پرتله ۷۲ سلنه کمښت راغلی ده ،چې له ۳۹۱،۵۷ میلونو ډالرو څخه چې د تیر لمریز کال په دریمه څلوریزه کی ثبت شوی وه د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې ۱۰۹،۵۳ میلونه ډالرو ته رسیدلی دی.

**۳،۳. د تادیاتو د بیلانس مالي حساب:** مالي حساب د تادیاتو له مخامخ پانګونې ،ارزښت لرونکو پانو کې پانګونه او یو شمیر نور مهمو برخو لکه اسعاري زیرمو څخه جوړ دی .

**۳،۳،۱. مخامخ بهرنۍ پانګونه** : د ارقامو له مخی د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کی مخامخ بهرنی پانګونه مخ په پورته میلان ښودلی دی. چی له ۴،۸٦ میلونو ډالرو څخه چی د تیر لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزی کی ثبت شوی وه د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزی کی ۱۰ میلونو ډالرو ته رسیدلی دی.

**۳،۳،۲. په ارزښت لرونکو پاڼو کې پانګونه** : په ارزښت لرونکو پاڼو کې پانګونه د (۱۳۹۸) لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې ۳۳،۷۴-میلونه ډالره وه، د روان لمریز لیږدیز کال په دریمه څلوریزه کې دا پانګونه ۸۳،۱۱ میلونو ډالرو ته زیاته شوې ده .

**جدول.۱ : د افغانستان د تادیاتو بیلانس په (میلیون امریکایي ډالرو)**


| ارقام/دوره | دویمه څلوریزه ۱۳۹۸ | دریمه څلوریزه ۱۳۹۸ | څلورمه څلوریزه ۱۳۹۸ | لومړی څلوریزه ۱۳۹۹ | دویمه څلوریزه ۱۳۹۹ | دریمه څلوریزه ۱۳۹۹ | په سلنه کی تغیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **جاری حساب** | **-۷۷۸,۳** | **-۱۰۲۸,۳۸** | **-۷۰۸,۳۵** | **-۹۴۶,۴۲** | **-۴۱۴,۳۳** | **-۸۹۳,۵۱** | **-۰,۱۳** |
| کریډت | ۱۰۱۳,۸۶ | ۸۵۱,۶۴ | ۱۲۸۰,۴۶ | ۸۱۵,۵ | ۸۵۷,۱۶ | ۱۲۶۱,۷۲ | ۰,۴۸ |
| ډیبټ | ۱۷۹۲,۱۶ | ۱۸۸۰,۰۲ | ۱۹۸۸,۸۱ | ۱۷۶۱,۹۲ | ۱۲۷۱,۵ | ۲۱۵۵,۲۲ | ۰,۱۵ |
| **د توکو او خدماتوحساب** | **-۱۴۲۷,۲۲** | **-۱۴۳۸,۵** | **-۱۳۶۸,۸۵** | **-۱۲۵۰,۱۲** | **-۱۰۴۱,۵۹** | **-۱۶۶۲,۶۱** | **۰,۱۶** |
| کریډت | ۲۸۳,۹ | ۳۴۴,۶۴ | ۵۱۶,۷۳ | ۳۹۹,۷۳ | ۱۴۶,۶۳ | ۳۸۰,۲۴ | ۰,۱ |
| دبت | ۱۷۱۱,۱۲ | ۱۷۸۳,۱۴ | ۱۸۸۵,۵۷ | ۱۶۴۹,۸۵ | ۱۱۸۸,۲۲ | ۲۰۴۲,۸۵ | ۰,۱۵ |
| **د توکو حساب** | **-۱۳۲۳,۰۵** | **-۱۲۵۲,۹۱** | **-۱۲۵۹,۶۳** | **-۱۱۷۷,۴۳** | **-۹۶۰,۸۹** | **-۱۵۳۳.** | **۰,۲۲** |
| کریډت | ۱۴۳,۲۹ | ۲۰۸,۷۷ | ۳۲۹,۲۱ | ۲۰۳,۶۴ | ۳۲. | ۱۹۸,۴۲ | -۰,۰۵ |
| دبت | ۱۴۶۶,۳۴ | ۱۴۶۱,۶۷ | ۱۵۸۸,۸۴ | ۱۳۸۱,۰۷ | ۹۹۲,۸۹ | ۱۷۳۱,۴۲ | ۰,۱۸ |
| **دخدماتو حساب** | **-۱۰۴,۱۷** | **-۱۸۵,۵۹** | **-۱۰۹,۲۲** | **-۷۲,۶۹** | **-۸۰,۷** | **-۱۲۹,۶۱** | **-۰,۳** |
| کریډت | ۱۴۰,۶۱ | ۱۳۵,۸۷ | ۱۸۷,۵۲ | ۱۹۶,۰۹ | ۱۱۴,۶۳ | ۱۸۱,۸۲ | ۰,۳۴ |
| دبت | ۲۴۴,۷۸ | ۳۲۱,۴۷ | ۲۹۶,۷۴ | ۲۶۸,۷۸ | ۱۹۵,۳۳ | ۳۱۱,۴۴ | -۰,۰۳ |
| **د لومړنیو عوایدو حساب** | **۱۰۱,۰۸** | **۶۸,۸۴** | **۶۱,۰۷** | **۶۳,۰۸** | **۳۰,۲۱** | **۵۱,۵۳** | **-۰,۲۵** |
| کریډت | ۱۱۱,۹۸ | ۷۵,۷۹ | ۷۱,۴۸ | ۷۴,۸۹ | ۴۲,۱۳ | ۶۵,۳۵ | -۰,۱۴ |
| دبت | ۱۰,۸۹ | ۶,۹۵ | ۱۰,۴ | ۱۱,۸۲ | ۱۱,۹۲ | ۱۳,۸۱ | ۰,۹۹ |
| **د منځنیو عوایدو حساب** | **۵۴۷,۸۳** | **۳۴۱,۲۷** | **۵۹۹,۴۳** | **۲۴۰,۶۲** | **۵۹۷,۰۴** | **۷۱۷,۵۷** | **۱,۱** |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کریدت | ۶۱۷,۹۹ | ۴۳۱,۲۱ | ۶۹۲,۲۶ | ۳۴۰,۸۸ | ۶۶۸,۴ | ۸۱۶,۱۲ | ۰,۸۹ |
| دبت | ۷۰,۱۵ | ۸۹,۹۳ | ۹۲,۸۳ | ۱۰۰,۲۶ | ۷۱,۳۶ | ۹۸,۵۵ | ۰,۱ |
| **جاری لیږدونی (رسمی مرستی)** | **۴۳۲,۹۱** | **۲۳۳,۱۳** | **۴۹۷,۷۵** | **۱۷۷,۳۸** | **۵۱۳,۶۶** | **۵۸۵,۷۴** | **۱,۵۱** |
| کریدت | ۴۳۲,۹۱ | ۲۳۳,۱۳ | ۴۹۷,۷۵ | ۱۷۷,۳۸ | ۵۱۳,۶۶ | ۵۸۵,۷۴ | ۱,۵۱ |
| دبت | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **خصوصی لیږدونی** | **۱۴۵,۳۶** | **۱۴۲,۵۱** | **۱۳۹,۸۷** | **۹۵,۹۱** | **۱۰۷,۷۱** | **۱۷۶,۷۴** | **۰,۲۴** |
| کریدت | ۱۸۵,۰۸ | ۱۹۸,۰۸ | ۱۹۴,۵۱ | ۱۶۳,۵ | ۱۵۴,۷۵ | ۲۳۰,۳۸ | ۰,۱۶ |
| دبت | ۳۹,۷۲ | ۵۵,۵۷ | ۵۴,۶۴ | ۶۷,۵۹ | ۴۷,۰۴ | ۵۳,۶۴ | -۰,۰۳ |
| **پانګیز حساب** | **۲۴۱,۵۷** | **۳۹۱,۵۷** | **۵۰۴,۶۸** | **۴۸,۲۱** | **۱۰۷,۱۷** | **۱۰۹,۵۳** | **-۰,۷۲** |
| کریدت | ۲۴۱,۵۷ | ۳۹۱,۵۷ | ۵۰۴,۶۸ | ۴۸,۲۱ | ۱۰۷,۱۷ | ۱۰۹,۵۳ | -۰,۷۲ |
| دبت | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **پانګیزی لیږدونی** | **۲۴۱,۵۷** | **۳۹۱,۵۷** | **۵۰۴,۶۸** | **۴۸,۲۱** | **۱۰۷,۱۷** | **۱۰۹,۵۳** | **-۰,۷۲** |
| کریدت | ۲۴۱,۵۷ | ۳۹۱,۵۷ | ۵۰۴,۶۸ | ۴۸,۲۱ | ۱۰۷,۱۷ | ۱۰۹,۵۳ | -۰,۷۲ |
| دبت | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **مالی حساب** | **۲۷,۸۵** | **۵۸,۹۷** | **۱۰,۹۲** | **-۱۴۷,۵** | **۳۴۶,۹۹** | **۱۰۰,۴۲** | **۰,۷** |
| **مستقیمه پانګونه** | **-۶,۲۸** | **۹,۰۴** | **-۱,۵۵** | **۲,۹۱** | **-۰,۴۳** | **۵,۲۲** | **-۰,۴۲** |
| شتمنی | ۵,۶۹ | ۴,۸۶ | ۵,۲۶ | ۶,۱ | ۲,۵۹ | ۱۰. | ۱,۰۶ |
| پورونه (مسولیت) | ۱۱,۹۷ | -۴,۱۸ | ۶,۸۱ | ۳,۱۹ | ۳,۰۲ | ۴,۷۸ | -۲,۱۴ |
| **غیر مستقیمه پانګونه** | **۱۵,۴۲** | **-۳۳,۷۴** | **۲۰,۱۶** | **-۱۸,۲** | **۴۱,۱۹** | **۸۳,۱۱** | **-۳,۴۶** |
| شتمنی | ۱۵,۴۲ | -۳۳,۷۴ | ۲۰,۱۶ | -۱۸,۲ | ۴۱,۱۹ | ۸۳,۱۱ | -۳,۴۶ |
| پورونه (مسولیت) | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **متفرقه پانګونه** | **-۹,۴۲** | **-۷۲,۹۹** | **۱۲۴,۲۶** | **-۲۲,۵۴** | **-۲۹۰,۹۳** | **-۹,۷۴** | **-۰,۸۷** |
| شتمنی | -۲۳,۱۳ | -۱۷,۸۶ | ۸۹,۲۴ | -۳۸,۲۲ | -۷۴,۰۹ | -۰,۲۴ | -۰,۹۹ |
| پورونه (مسولیت) | -۱۳,۷۱ | ۵۵,۱۴ | -۳۵,۰۲ | -۱۵,۶۷ | ۲۱۶,۸۴ | ۹,۵ | -۰,۸۳ |
| **شتمنیز زیرمی** | **۲۸,۱۳** | **۱۵۶,۶۶** | **-۱۳۱,۹۴** | **-۱۰۹,۶۷** | **۵۹۷,۱۶** | **۲۱,۸۴** | **-۰,۸۶** |
| **خالصه تیروتنی** | **۵۶۴,۵۹** | **۶۹۵,۷۹** | **۲۱۴,۵۹** | **۷۵۰,۷۲** | **۶۵۴,۱۵** | **۸۸۴,۴** | **۰,۲۷** |

## 4. مالی سکتور

د مالي پاليسۍ اصلي موخه د عايداتو په راټولولو کې د دوامداره زياتوالي راوړل دي ،څو په تدريجي توګه ، عادي او پرمختيايي لګښتونه چې له بهرنيو مرستو له لارې تمويليږي ،د بودجې تخصيص د افغانستان له ملي پرمختيايي ستراتيژۍ سره مطابقت پيدا کړي . سربيره پر دې ، نورې موخې د عامه لګښتونو مديريت ښه والی ، د مالي پاليسي اصلاح کول ، د مالی پاليسيو رامينځته کوونکي شرکتونو ، ګمرکاتو او د ماليې ا ـ غيزمنتوب او اداره کول دي.


د 1399 لمریز لیږدیز مالي کال له پیل څخه ټوله ملي بودجه 428.38 میلیارده افغانۍ وه خو د تیر مالي کال بیا (139۸) لمریز لیږدیز مالي کال 399.42 میلیارده افغانۍ وه ، چې 28.96 میلیارده افغانۍ او یا د ٪7.25 ډیربښت څرګندوي . د1399 لمریز لیږدیز مالي کال عادي یا عملیاتي بودجه 289.10 میلیارده افغانۍ او پراختیایي بودجه بیا 139.28 میلیارده افغانۍ اټکل شوې ده .




سرچینه: د مالیی وزارت/د پولی سیاست د آمریت محاسبه

هیوادونه کولای شي چې د مالي کال په جریان کې په بودجه کې تغیر راولي او دا تغیر کله د تمویلوونکو له لوري د غیرې اختیاري مصارفو له کبله او یا هم د مالیې وزارت له لوری په بودجه کې کوم تغیر د کال په منځ کې راشي چې دا تغیر باید د ولسي جرګې له لوري تصویب شي او د مالیې وزارت باید پوره اسناد او دلایل وړاندې کړي.

لاندې جدول د ۲۰۲۰ زیږدیز کال تازه ارقام څرګندوي چې د همدې کال تر تله میاشتې پورې دي او کوم تغیر چې په کې دی د غیرې اختیاري مصارفو له کبله ده او د یادونې وړ ده چې تر اوسه د هېواد بودجه چې کوم تغیر باید په کې راشي د کابینه له لوري تصویب شوې ده.




د روان زیږدیز کال د وړی میاشتی تر پای پورې ټوله بودجه 453.88 میلیاردو افغانیو ته لوړه شوې چې 298.27 میلیارده افغانۍ یې عملیاتي او 155.61 میلیارده افغانۍ یې پرمختیایی ده. د روان زیږدیز کال پیل څخه تر اوسه د ارقامو له مخې25.50اویا ٪5.95 ډېرښت څرګندوي او د تیر کال د همدې تاریخ (لمریز لیږدیز مالي کال دوړی میاشتی پای پورې) په پرتله 29.48 میلیارده افغانۍ ډېرښت څرګندوي.

ټول عواید (کورني عواید او بهرنۍ مرستې) د 1399 لیږدیز مالی کال له پیل څخه تر تله میاشتې پای پورې301.63 میلیارده افغانۍ ته رسیدلې ده ، چې ده دې جملې څخه کورني عواید 148.10 میلیارده افغانۍ او بهرنیو مرستی 153.53 میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

کورني عواید د لړم په میاشت کې لږوالی په نښه کوي ، چې له 18.30 میلیارده افغانیو څخه د د تله په میاشت کې تر11.84 میلیارده افغانۍ د لړم میاشت کی. دا بدلون د 6.47 میلیارده افغانۍ او یا د٪ 35.33 لږوالی څرګندوي.له بلیخوا د لړم په  میاشت کی په بهرنیو مرستو کی ډېروالی راغلی ده ، چې ټوله بهرنۍ مرستی له 12.32 میلیارده افغانۍ په لړم میاشت کې ، همدارنګه 12.13 میلیارده افغانۍ د دتله په میاشت که رسیدلی دی . چې د 0.20 میلیـارده افغانۍ او یا د٪ 1.64 ل ډېروالی څرګندوي.

په ورته وخت کې ، ټول لګښتونه د 1399 لیږدیز مالي کال تر لړم میاشتی پای پورې 336.09 میلیارده افغانیو ته رسیدلی دي چې له دې جملې څخه ،چاري لګښتونه 230.10 میلیارده افغانۍ او پراختیایي لګښتونه 105.99 میلیارده افغانیو ته رسیږي.

چاري لګښتونه د لړم  په میاشت کی 21.61 میلیارده افغانی دی ، چې د تله په میاشت کی 24.46 میلیارده افغانی وی ، دا بدلون د 2.85 میلیارد افغانی ٪11.66 لږوالی په نښه کوی. همدا رنګه پراختیایی لګښتونه د لړم په میاشت 13.84 میلیارده افغانی ته رسیدلی ده چې د تله په میاشت کی 16.01 میلیارده افغانی وی چې د تله میاشتی په پرتله 2.17 میلیارده افغانی او یا د ٪13.54 لږوالی څرګندوی.

| ځانګړنه | د تله میاشت او 1399 مالی کال | د لړم میاشت او 1399 مالی کال | د 1399 مالی کال له پیل څخه د لړم میاشتی پوری | توپیر ( د تله او د لړم میاشتو کې) | میاشتني وده (٪) |
|---|---|---|---|---|---|
| | د افغانۍ شمیرنه په ملیاردونو | | | | |
| ټول عواید | 30.43 | 24.16 | 301.63 | (6.27) | -20.60% |
| کورنی عواید | 18.30 | 11.84 | 148.10 | (6.47) | -35.33% |
| بهرنی عواید | 12.13 | 12.32 | 153.53 | 0.20 | 1.64% |
| ټول لګښتونه | 40.47 | 35.45 | 336.09 | (5.02) | -12.41% |
| جاری لګښتونه | 24.46 | 21.61 | 230.10 | (2.85) | -11.66% |
| پراختیایي لګښتونه | 16.01 | 13.84 | 105.99 | (2.17) | -13.54% |

د اصلي بودجې د اجراء کول نرخ د 1399 لیږدیز مالي کال تر لړم میاشت پای پورې ٪70 ته رسیدلی ده او همدارنګه دتیری تله میاشتی بودجی نرخ٪ 63 وه چی د تله میاشتی په پرتله د اجراء په نرخ کی 7٪ زیاتوالی څرګندوی.

سرچینه: د مالیی وزارت/د پولی سیاست د آمریت محاسبه